بسم الله الرحمن الرحيم

جريده

# ميــــزان

ستره محکمه

د سترې محکمې کاري ځرګندويه خپرونه

د تأسيس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

پنج شنبه ۲۳ زمری ۱۴۰۴ هـ ش | ۲۰ صفرالمظفر ۱۴۴۷ هـ ق | ۱۴ اګست ۲۰۲۵ م | مسلسله شمېره (۱۰۷)

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې اېښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زياتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وای نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کېده.
تفسير کابلی، ج ۲، ص ۱۳۰۳

## د سترې محکمې محترم رئيس او قاضي‌القضات لوګر او پکتيا ولايتونو ته سفر وکړ

د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې رئيس او قاضي‌القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب د يوه پلاوي په ملتيا، د روان ۱۴۴۷ هـ ق کال د صفرالمظفر مياشتې په ۱۳ مه او ۱۵ مه نېټه لوګر او پکتيا ولايتونو ته سفر وکړ.

محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په دغه سفر کې د يادو ولايتونو د مرافعه محاکمو له عمومي رئيسانو، د دغه ولايتونو د محاکمو اړوند قضاتو، مفتيانو، محررينو، علماوو شورا او نورو اړوند ولايتي امارتي ادارو له مسؤولينو سره وکتل.

د سترې محکمې رئيس او قاضي‌القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په يادو ليدنو کې د محاکمو مسؤولينو او منسوبينو ته هدايت وکړ چې د تل په څېر دې د مرافعه او ابتدائيه محاکمو قضائي غړي له يو بل سره په قضائي او اداري چارو کې ښې اړيکې ولري، ابتدائيه محاکم دې هڅه او کوښښ کوي چې واردې شوې دوسيې د شريعت، اصولو، فرامينو، احکامو او متحدالمآلونو مطابق حل او فصل کړي، ترڅو يې صادرې شوې فيصلې د لوړو محاکمو لخوا نقض نشي.

محترم شيخ صاحب زياته کړه، د محاکمو قضائي او اداري غړي دې د دعوی له طرفينو سره ښه چلند کوي او د اصولو مطابق که لارښوونې ته اړتيا لري، رهنمايي دې ورته کوي.

د سترې محکمې محترم رئيس او قاضي‌القضات زياته کړه، قاضي او مفتي دواړه مسؤول او مکلف دي چې کومې دوسيې ته رسېدنه کوي، د هغه په اړه دقيقه څېړنه او تحقيق وکړي، کله چې د دوسيې جريان ورته واضح او معلوم شو، بيا دې په اړه فيصله کوي، زمونږ ډېری هېوادوال په محاکمو کې د خپلو دوسيو د پرمخ وړلو برخه کې ډېر معلومات نه لري او په دې برخه کې نابلد دي؛ نو بناءً محترم قضات دې له هغوی سره له غوسې ډک چلند نه کوي؛ بلکې ښه چلند دې ورسره وکړي.

په دې سربېره محترم شيخ صاحب د محاکمو او نورو اړوند امارتي ادارو ترمنځ پر همغږۍ ټينګار وکړ وويل، د ادارو ترمنځ د همغږۍ اړتيا او ګټه داده چې د مراجعينو کارونه له ځنډ او ځنډ سره نه مخ کېږي؛ د قوي همغږۍ په صورت کې په کم وخت کې د مراجعينو موضوعاتو او مشکلاتو ته رسېدنه کېږي.

د سترې محکمې رئيس او قاضي‌القضات د ټولو ولايتي ادارو مسؤولينو ته هدايت وکړ چې شپه او ورځ د ولس خدمت ته ځان حاضر وګڼي، د خلکو مشکلات له نږدې واوري او د اسلامي شريعت د احکامو په رڼا کې ورته رسېدنه وکړي.

د ليدنو په وروستيو کې د مرافعه محکمې عمومي رئيسانو محترم شيخ صاحب او ورسره مل پلاوي ته ډاډ ورکړ چې ټولو دوسيو ته پر خپل وخت رسېدنه شوې، د قضاتو ترمنځ توافق او همغږي شتون لري او له دې وروسته به هم په ټول توان سره د قضيو د حل او فصل لپاره هڅه کوي.

د يادونې وړ ده چې په يادو ولايتي سفرونو کې د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رئيس محترم مفتي عبدالرشيد (سعيد)، د سترې محکمې د کارکوونکو چارو عمومي رئيس محترم مولوي سيف الله آغا او د سترې محکمې د پلان او پاليسۍ رئيس محترم مولوي محمد جمعه (فيضاني) د سترې محکمې د محترم رئيس او قاضي‌القضات حفظه‌الله ملتيا کوله.

## د سترې محکمې نظامي مرستيال دايکندي ولايت ته سفر وکړ

د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې نظامي مرستيال محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب د روان ۱۴۴۷ هـ ق کال د صفرالمظفر مياشتې په څلورمه نېټه، د غزني زون نظامي محکمې اړوند دايکندي ولايت نظامي محکمې د نوي رئيس د معرفت او يادې محکمې د چارو ارزونې په موخه ياد ولايت ته سفر وکړ.

محترم شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب د دغه سفر پر مهال د غزني زون نظامي محکمې اړوند دايکندي ولايت نظامي محکمې نوي رئيس محترم مولوي حزب الله د معرفت په موخه جوړه شوې غونډه کې چې د ياد ولايت محترم والي، د مرافعه محکمې رئيس، امنيه قوماندان، استخباراتو، د احکامو او فرامينو د تعقيب او نظارت او نورو ولايتي ادارو رئيسانو او مسؤولينو په کې حضور درلود؛ ګډون او وينا وکړه.

د سترې محکمې نظامي مرستيال د يادې غونډې ګډونوالو ته د نظامي محاکمو پر اړتيا او ارزښت تفصيلي خبرې وکړې وويل، په اسلامي نظام کې هېڅ وګړی د محاکمو له شرعي پرېکړو مستثنی نه دی؛ بلکې که هر څوک د جرم ترسره کولو هڅه وکړي او دوسيه يې محکمې ته راجع شي، محاکم به يې د اسلامي ارشاداتو په رڼا کې فيصله کوي.

محترم شيخ صاحب زياته کړه، د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې تر چتر لاندې د نظامي محاکمو معاونيت موجود دی، چې دغه معاونيت د هېواد د زونونو او ټولو ولايتونو لپاره څانګې لري، د دغه محاکمو ګټه او ارزښت دادی چې که چېرې خدای مه کړه کوم مجاهد يا نظامي کس د بل نظامي يا عام هېوادوال حق ضايع کوي، يا ور باندې ظلم کوي او ... نو متضرر لوری کولای شي اړوند ولايت کې نظامي محکمې ته عارض شي، نظامي محکمه به يې دوسيه د اسلامي احکامو او محاکمو د اصولو په رڼا کې فيصله کړي.

دغه راز ښاغلي شيخ خيرجان (خيرخواه) صاحب د محاکمو او نورو امارتي ادارو ترمنځ شته همغږي وستايله او ناسته کې حاضرو امارتي مسؤولينو ته يې د همغږۍ پر لا تقويه ټينګار وکړ.

د سترې محکمې نظامي مرستيال د خپل سفر په جريان کې د غزني زون اړوند د دايکندي ولايت نظامي محکمې چارې له نږدې بررسي کړې، د دې محکمې مسؤولينو ته يې هدايت وکړ چې د مراجعينو دوسيې په بشپړ استقلاليت او د اسلامي احکامو په رڼا کې فيصله کړي.

د يادونې وړ ده چې نوي رئيس محترم مولوي حزب الله په همدې ورځ د محاکمو او نورو ولايتي امارتي ادارو مسؤولينو ته معرفي او رسماً يې خپله دنده پيل کړه.

## د سترې محکمې جزا دېوان عمومي رئيس د يوه لوړ رتبه پلاوي په مشرۍ له بګرام زندان څخه ليدنه وکړه

د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې جزا دېوان عمومي رئيس محترم مفتي عتيق الله (درويش) صاحب په مشرۍ يوه لوړ رتبه پلاوي چې د رياست الوزراء، احکامو او فرامينو د تعقيب او نظارت لوی رياست، امر بالمعروف، نهی عن المنکر او شکايتونو اورېدو وزارت، زندانونو چارو د سمون ادارې او نظامي محکمې استازو يې غړيتوب درلود، د سترې محکمې د رئيس او قاضي‌القضات محترم شيخ عبدالحکيم (حقاني) صاحب په ځانګړي هدايت، په ۱۴۴۷/۲/۵ هـ ق نېټه له بګرام زندان څخه ليدنه وکړه.

د سترې محکمې د جزا دېوان عمومي رئيس او ورسره مل پلاوي په دې ليدنه کې، زندانيان له نږدې وليدل، د هغوی د وضعيت تر بررسۍ او ارزونې وروسته يې د زندانيانو غوښتنې او اړتياوې واورېدې.

محترم مفتي عتيق الله (درويش) صاحب د دغه ليدنې پر مهال د بګرام زندانيانو ته ډاډ ورکړل چې دوسيو ته به يې د شرعي احکامو او اسلامي امارت د محاکمو د اصولو په رڼا کې په ټاکلي وخت رسېدنه کېږي او هېڅ زنداني به زندان کې بې‌برخليکه نه پاتې کېږي.

په دې سربېره د جزا دېوان عمومي رئيس او د ياد پلاوي غړو زندانيانو ته لازمې سپارښتنې او هدايات وکړل وويل، زندان د مجرمينو د اصلاح ځای دی، تاسو هڅه وکړئ چې په خپلو جرايمو او سرکشيو پښېمانه او الله (جل‌جلاله) ته توبه وکړئ؛ له زندان څخه د وتلو پر مهال ټولنې ته د اصلاح او خادم وګړي په حيث رجوع وکړئ.

د بګرام زندانيانو، دغه زندان ته د افغانستان اسلامي امارت د ياد لوړ رتبه پلاوي له ورتګ مننه وکړه وويل، دا چې د اسلامي امارت لوړ رتبه مسؤولينو دغه پلاوی زمونږ د وضعيت ارزونې په موخه زندان ته راغلی خوشحاله يو. يادو زندانيانو ژمنه وکړه چې له دې وروسته به له هر ډول سرکشۍ ډډه کوي او ټولنه کې به د اصلاح وګړو په حيث ژوند کوي.

**په راشده خلافت دوره کې قضاء:**

**د ابوبکر صديق ﷺ په دوره کې قضاء:**

**شپږمه برخه**

کله چې نبي کريم ﷺ رحلت وکړ؛ نو دده ﷺ د نص له امله چې کله يې دی مخته کړ، نو په بني ساعده سقيفه کې بيعت ورسره وکړل شو او کله چې له ده سره بيعت شروع کېدلو، نو وويل:«ما پرېږدئ، ځکه زه ستاسو په خير نه يم»، مګر ټولو وويل: په الله قسم چې تا به پرېنږدو او نه به ستا استعفا ومنو؛ ځکه رسول الله ﷺ ته موږ ته په ديني چارو غوره کړې؛ نو موږ به تا خپلو دنيوي چارو کې نه انتخابوو؟.

ابو بکر صديق ﷺ د ۶۳ کلنۍ په عمر، د هجرت په ۱۳ کال د جمادی الآخره مياشتې څخه اته ورځې مخکې وفات شو، چې د خلافت دوره يې دوه کاله، څلور مياشتې او لس ورځې وه.

اخذليک: تتمة النظام، ۵۷ صفحه، تأليف: قاضي القضات شيخ عبدالحکيم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحيم راشد

## خلاصۀ گزارش اجراآت ریاست ارتباط خارجه، عامه و مطبوعات ستره محکمه طی ربع چهارم ١٤٤٦ هـ ق

ریاست ارتباط خارجه، عامه و مطبوعات ستره محکمه طی ربع چهارم سال ١٤٤٦ هـ ق فعالیت های ذیل را انجام داده‌است:

١. ثبت، ادیت و نشر چهار برنامۀ ولس و قضاء.

٢. چاپ و توزیع ( ٩) شماره جریدۀ میزان.

٣. تهیه و نشر حدود (٤٧٧) گزارش از فعالیت های محاکم کشور به زبان های (پشتو، دری، انگلیسی و عربی).

٤. تهیه و نشر سه اعلامیۀ کمیتۀ مرکزی رؤیت هلال.

٥. ترتیب و نشر (١٤٥) عدد انفوگرافیک از فعالیت‌های قضائی محاکم کشور.

٦. ثبت، ایدیت و نشر (٤٧) برنامۀ "ستره محکمه در جریان یک هفته" به چهار زبان.

٧. ترتیب، دیزاین و تکثیر (٧٨) شماره بلوتن خبری.

٨. ترتیب، دیزاین و نشر (٩) قول محترم قاضی‌القضات و رئیس ستره محکمه.

٩. دیزاین، چاپ و توزیع جنتری سه ماه اخیر سال ١٤٤٦ هـ ق.

١٠. دیزاین و نشر ٩٠ عدد تاریخ روز.

١١. تهیه و ترتیب گزارش معرفی کتابخانۀ قضاء به زبان های رسمی کشور.

١٢. هماهنگی و روابط با رسانه ها عندالضرورت.

١٣. هماهنگی و تماس با مسؤولین محاکم و ادارات امارتی عندالضرورت.

١٤. ترتیب و تنظیم مکاتیب، پیشنهادات، حواله های اجناس، مکاتیب کمیته رؤیت هلال و سایر امور اداری.

١٥. اجراآت تعداد ٦٦٧ شماره وارده و صادره و ٣٣٩ شماره رسیدات مکاتیب انجام یافته است.

١٦. توزیع به تعداد (١٥) شماره که (٨٠٠) جلد می‌شود؛ قوانین امارت اسلامی به دفتر مقام، معاونیت‌ها، ریاست‌های تمیز، دیوان‌ها و ریاست‌های مرکزی ستره محکمه و محاکم مرکز و ولایات کشور.

١٧. فوتوکاپی (٦٧٣٠٩) ورق بر اساس درخاست های ریاست عمومی دفتر مقام، ریاست عالی تمیز مرکزی، دیوان‌های ستره محکمه، ریاست دعوت و ارشاد، ریاست عمومی دارالانشاء، ریاست تدقیق و مطالعات، ریاست تعلیمات قضائی، قطعۀ امنیتی قضات، ریاست مالی و اداری و سایر ادارات ستره محکمه.

١٨. به تعداد (٨) جلد متحدالمآل‌ها، (٣٠٠٠) نسخه کلینک، (٩٢٢) جلد کتاب نصاب درسی ریاست دعوت و ارشاد و قطعه امنیتی قضات، (٤٠) بسته تکت دخولی و خروجی برای ریاست عمومی امور کارکنان و دیوان تجارتی چاپ و به مراجع مربوطه شان جهت استفاده تسلیم داده شده.

١٩. به تعداد (٩٧٣) جلد قوانین، متحدالمآل‌ها، کتاب نصاب درسی ریاست دعوت و ارشاد، دفاتر سوانح قضات و کارمندان اداری و غیره صحافت شد و به تعداد (٢٠٠٠) ورق و (٤٠) بسته تکت دخولی و خروجی برشکاری شد.

٢٠. هماهنگی با وزارت امور خارجه و جمعیت صلیب سرخ، در خصوص سفر رئیس دیوان جزا ستره محکمه به کشور اردن .

٢١. تنظیم و برگزاری جلسه و هماهنگی با نمایندگان یوناما.

٢٢. تنظیم و برگزاری جلسه و هماهنگی با خبرگزاری پرانس‌پرس.

٢٣. تنظیم و برگزاری نشست مسؤولین محترم ستره محکمه با علمای کشور ترکیه.

٢٤. هماهنگی و تبادل ایمیل با نمایندگان یوناما، صلیب سرخ و خبرگزاری پرانس‌پرس تبادله گردیده‌است.

٢٥. تهیه و ترتیب (٢١٧) قطعه مکاتیب در رابطه به موضوعات همکاری‌های قضائی، زندانی شدن اتباع خارجی، ثبت پاسپورت و تذکره اتباع خارجی، ثبت نکاح‌خط اتباع کشور و موضوعات مختلف دیگر.

٢٦- (٨٠) جلد کتاب که برای مراجعین به خاطر مطالعه به شکل امانت داده شده بود؛ از طرف شخص موظف دوباره تسلیمی گرفته شده است.

٢٧- (٣٠) جلد کتاب برای مطالعه به ریاست های مرکزی، اعضای قضائی، کارمندان اداری و مجاهدین به شکل امانت داده شده است.

٢٨- (٢٠) جلد کتاب که به شکل امانت داده شده بود؛ یک هفته وقت اش دوباره تمدید گردیده است.

٢٩- (۶) قطعه علم خبر از اعضای قضائی و کارمندان اداری ستره محکمه که تبدیل و یا منفک شده است را تصدیق کرده است.

٣٠- کتاب های کتابخانه قضاء به شکل منظم ترتیب شده و کتاب هر فن در جای مناسب اش گذاشته شده است.

٣١- در ربع چهارم به شکل منظم، دوامدار و بی وقفه برای مراجعین زمینه کتاب خواندن و هر نوع سهولت در کتابخانه فراهم شده است.

## خلاصه راپور اجراآت ریاست عمومی امور کارکنان ستره محکمه طی ربع چهارم سال ۱۴۴۶ هـ ق

ریاست عمومی امور کارکنان ستره محکمه طی ربع چهارم سال ۱۴۴۶ هـ ش اجراآت ذیل را انجام داده است:

- به تعداد (۱۰٤۱) قطعه کارت هویت برای کارمندان نظامی، قضائی، اداری و خدماتی ستره محکمه ترتیب و چاپ شده است؛ همچنان ترتیب طرح و خواسته ها (Requirements) در رابطه به تغیرات در دیتابیس (HRMIS) ریاست عمومی امور کارکنان صورت گرفته است.
- برای کارمندان خدماتی ستره محکمه دیتابیسِ در برنامه اکسل ترتیب شده، که تقریباً شهرت مکمل (۲۰۶۵) تن کارمندان خدماتی در آن ثبت گردیده است و (۲) تن اعضائی قضائی در قضیه زمین وزارت دفاع ملی و شرکت امارتی سپین زر از طرف این ریاست توظیف شده است.
- جدول تعیین معیاد خدمت برای اخذ حقوق تقاعد برای (۳۷۰) تن کارمندان بی سرنوشت و منفک شده ستره محکمه ترتیب شده است.
- به اساس حکم شماره (۱۲) مؤرخ ۱۴۴۶/۶/۹ مقام عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) برای تشکیل محکمه اختصاصی حقوق و تقاعد (۹) بست قضائی، (۱۴) بست اداری و (۴) بست خدماتی که مجموعاً (۲۷) بست میشود؛ ترتیب و به اساس حکم شماره (۱۷۹۲/۶۷۵۶) مؤرخ ۱۴۴۶/۱۲/۱ عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالی منظور گردید.
- در چوکات تشکیل ریاست امنیتی و اجرائیوی ستره محکمه برای بخش محکمه نظامی تخار زون کندز (۳۱) بست پرسونل امنیتی و (۲) عراده موتر غرض منظوری به مقام عالیقدر امیر المؤمنین (حفظه الله تعالی) پیشنهاد گردیده است.
- به اساس حکم شماره (۱۶۰۹/۶۰۶۱) مؤرخ ۱۴۴۶/۵/۱۱ عالیقدر امیر المؤمنین (حفظه الله تعالی) در ساختار تشکیلاتی معاونیت نظامی ستره محکمه برای تشکیل محکمه اختصاصی خاص ځواک (۹) بست قضائی، (۱) بست اداری و (۲) بست خدماتی که مجموعاً (۱۲) بست میشود؛ همچنان جهت تأمین امنیت محکمه متذکره (۲۰) بست پرسونل امنیتی غرض منظوری به مقام عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) پیشنهاد گردیده است.
- به اساس حکم شماره (۱۶۶۱/۶۳۲۶) مؤرخ ۱۴۴۶/۱۲/۱۱ در ساختار تشکیلاتی محکمه ولایت کابل زون مرکز برای رسیدگی به موضوعات فساد اداری (۳) بست قضائی، (۱) بست اداری و (۲) بست خدماتی که مجموعاً (۶) بست میشود؛ جهت منظوری به مقام عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله تعالی) پیشنهاد گردید.
- یک تن از ریاست عمومی تدقیق و مطالعات جهت اشتراک در برنامه ستاژ تقنینی وزارت عدلیه معرفی گردید.
- ثبت و معامله فورمه پ ۲ های (۹۹) تن کارمندان قضائی، اداری و خدماتی در دیتابیس الکترونیکی؛ ارسال تعداد (۲۰) جلد دفاتر سوانح برای سایر ادارات؛ درخواست (۱۵) جلد دفاتر سوانح از سایر ادارات و ترتیب تعداد (۴۰) قطعه دفاتر سوانح صورت گرفته است.
- جهت ارزیابی کارکنان از تاریخ ارزیابی اجراآت برای (۶۸۵) تن کارکنان اداری خدمات ملکی ستره محکمه در مرکز و ولایات آگاهی داده شد.
- تقرر (۹۰) نفر قضات، کارمندان اداری در مربوطات ستره محکمه؛ به تعداد (۹۹) قضات، کارمندان اداری و خدماتی منفک، منفصل و عزل گردیده و به تعداد (۴۰۰) نفر قضات کارمندان اداری تحصیلی شان معلومات و درج دفاتر سوانح گردیده است.
- طی ربع چهارم (۱۲) برنامه آموزشی، (۲) برنامه مهارت های اساسی سیستم اداری محاکم، (۲) برنامه آموزشی مراسلات اداری، (۲) برنامه آموزشی مهارت اساسی کمپیوتر، (۲) برنامه آموزشی تحریر وثایق، (۲) برنامه آموزشی طرز سلوک و رفتار مسلکی و مدیریت، (۱) برنامه آموزشی ارتباطات، مدیریت و گزارش نویسی و (۱) برنامه آموزشی ارزیابی اجراآت کارکنان خدمات ملکی از طرف ریاست ارتقاء ظرفیت این ریاست؛ دایر شده است.

## د جنوب لوېدیځ زون د تمیز او د څلورو ولایتونو د مرافعه محاکمو اداري کارکوونکو ته د ظرفیت لوړونې پنځه ورځنی روزنیز پروګرام پای ته ورسېد

د سترې محکمې د اجراآتو ارزونې او ظرفیت لوړونې ریاست د خپل روزنیزو سیمینارونو په دوام دا ځل د هېواد د جنوب لوېدیځ زون د تمیز او د څلورو ولایتونو د مرافعه محاکمو اداري کارکوونکو ته په ۱۴۴۷/۲/۱۳ هـ ق نېټه د کاري ظرفیت لوړونې په موخه پنځه ورځنی روزنیز پروګرام د یوې غونډې په ترڅ کې پای ته ورسوی.

د یاد روزنیز پروګرام د اختتام په موخه جوړه شوې غونډه کې چې د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه، د سترې محکمې د قضائي زده کړو عمومي ریاست رئیس محترم شیخ قیام الدین (قانت)، د اجراآتو ارزونې او ظرفیت لوړونې رئیس محترم حافظ نصیراحمد (صیاد)، د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس محترم مولوي عبدالرحیم (راشد)، د استخدام او سوانح رئیس محترم مفتي عبدالوارث (سعید) او د سترې محکمې یو شمېر نورو مسؤولینو او منسوبینو ګډون درلود.

د سترې محکمې د قضائي زده کړو عمومي رئیس شیخ قیام الدین( قانت) صاحب د سیمینار ګډونوالو ته په وینا کې اداري چارې د سترې محکمې مهمه برخه وبلله وویل، تاسو ټول باید خپل کارونه مهم وګڼئ؛ په اداري برخه کې دلته مهارتونه زده کړئ او اداري چارې باید په ډېر اخلاص، صداقت او دیانت سره خپلو ادارو کې عملي کړئ.

محترم شیخ صاحب د خپلو خبرو په دوام وویل، الله جل جلاله په موږ او تاسو باندې د اسلامي نظام لورینه کړې ده، داسې نظام چې د نفاذ په موخه یې سترې قربانۍ، زندانونه او هجرتونه ګالل شوې دي، نو د ساتلو په پار یې هم باید له اخلاص، صداقت، دیانت او هر ډول قربانۍ دریغه ونه کړو.

محترم شیخ قیام الدین (قانت) صاحب د سیمینار ګډونوالو ته وویل، هیله لرو له دې فرصت څخه په استفادې به مو د مدیریت، رهبرۍ، پلان جوړونې، تدارکاتو، بودجې مصرف، خبر جوړولو او نورو ضروري برخو کې نوي موارد زده کړي او دا چارې د اداري د ښه پرمختګ او د کارونو د تنظیم په موخه وکاروئ.

د یادونې وړ ده چې په دغه روزنیز پروګرام کې چې د سترې محکمې د قضائي زده کړو عمومي ریاست کې جوړ شوی وو؛ د جنوب لوېدیځ زون تمیز؛ کندهار، هلمند، دایکنډي او نیمروز ولایتونو مرافعه محاکمو څه باندې (۱۷۰) اداري کارکوونکو ګډون کړی وو.

غونډه د اجراآتو ارزونې او ظرفیت لوړونې رئیس محترم حافظ نصیراحمد (صیاد) صاحب په دعائیه سره پای ته ورسېده.

## د کابل ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۶۸۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۳۷۱) وثیقې هم اجرا کړې دي

د کابل ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه، د وثایقو آمریتونو او د تولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت (له ۱/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق څخه تر ۲۹ /۱ /۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې (۲۶۸۴) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۲۳۷۱) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**د جزائي دوسیو په برخه کې:**

د کابل ولایت تولو محاکمو په یوه میاشت کې د جزائي دوسیو په برخه کې (۱۵۳۴) دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

**د حقوقي دوسیو په برخه کې:**

د کابل ولایت تولو محاکمو په یوه میاشت کې د حقوقي دوسیو په برخه کې (۵۷۶) دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

د تجارتي دوسیو په برخه کې:

د کابل ولایت تولو محاکمو په یوه میاشت کې د تجارتي دوسیو په برخه کې (۵۷۴) دوسیو ته رسېدنه کړې ده.

**د وثیقو په برخه کې:**

د کابل ښار د وثیقو او سندونو د ثبت آمریتونو او د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې (۲۳۷۱) بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

## د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په دوو میاشتو کې (۳۶۴) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په دوو میاشت کې له ( ۱/ ۱۲/ ۱۴۴۶ هـ ق څخه تر (۲۹/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې په حقوقي او جزائي برخو کې (۳۶۴) دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**په حقوقي برخه کې:**

د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په دوو میاشتو کې (۷۶) حقوقي دوسیو ته رسېدنه کړې ده. له دې جملې څخه د (۲۳) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او (۵۳) دوسیې فیصله شوې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د کندهار ولایت ښاري ابتدائیه محکمې په دوو میاشتو کې (۲۸۸) جزائي دوسیو ته رسېدنه کړې ده. له دې جملې څخه د (۱۱۳) دوسیو په تړاو قضائي قرارونه صادر شوي او (۱۷۵) دوسیې فیصله شوې دي.

## د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۳۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۸۰) وثیقې هم اجرا کړې دي

د زابل ولایت د مرافعه، ښاري ابتدائیه، نظامي او د تولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۱۶/ ۱/ ۱۴۴۷هـ ق څخه تر ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۱۳۷) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۸۰) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۱۵۴) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۳۲) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۴۷) دوسیې فیصله شوې، (۱۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په دوو اونیو کې (۶۶) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۱۸) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲۴) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د زابل ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۸۰) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د کابل ولایت مرافعه او اختصاصي محکمې په یوه میاشت کې (۴۴۰) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ولایت مرافعه محکمې استیناڤي دیوانونو او اختصاصي محکمې د ۱ /۱ /۱۴۴۷ هـ ق څخه تر ۲۹ /۱ /۱۴۴۷ هـ ق نېټې پورې د اجراآتو راپور په لاندې ډول دی:

**د مرافعه محکمې دیوانونو اجراآت:**

د کابل ولایت مرافعه محکمې دیوانونو ته په یوه میاشت کې (۲۶۲) دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۲۳۰) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۲) دوسیه فیصله شوې، (۹۹) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د اختصاصي محکمې اجراآت:**

یادې محکمې ته په یوه میاشت کې (۶۸) دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۸۴) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۲) دوسیې فیصله شوې، (۱۳) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## محاکم ولایت کندز طی یک ماه علاوه بر رسیدگی به (۶۰۴) دوسیه، به تعداد (۳۸۴) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت کندز، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ ( ۱/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۵۶۱) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۱۸۴) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۹۱) دوسیه فیصله شده، (۲۷) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان یک ماه به تعداد (۳۸۸) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۱۶۱) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۱۳۵) دوسیه فیصله شده، (۶) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه در محاکم ولایت کندز به تعداد (۳۸۴) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د فراه ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۱۵۸) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۸۹) وثیقې هم اجرا کړې دي

د فراه ولایت د مرافعه، ښاري ابتدائیه، وثایقو او د تولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په دوو اونیو کې له (۱۶/ ۱/ ۱۴۴۷هـ ق نېټې څخه تر ۲۶/ ۱/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۱۵۸) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۸۹) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

د فراه ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۶۱) حقوقي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۱۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۳۶) دوسیې فیصله شوې، (۶) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

د فراه ولایت محاکمو ته په دوو اونیو کې (۹۷) جزائي دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۱۹) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۶۸) دوسیې فیصله شوې، (۱۰) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د فراه ولایت محاکمو په دوو اونیو کې (۸۹) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۲۰۸) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۷۰) وثیقې هم اجرا کړې دي

د میدان وردګ ولایت مرافعه، ښاري ابتدائیه او د تولو ولسوالیو ابتدائیه محاکمو په یوه میاشت کې له (۱/ ۱/ ۱۴۴۷هـ ق نېټې څخه تر ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۷هـ ق) نېټې پورې (۲۰۸) دوسیو ته پر رسېدنه سربېره، (۱۷۰) وثیقې هم اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.

**په حقوقي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۱۴۶) حقوقي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۱۳۵) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۳) دوسیې فیصله شوې، (۴) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۸۴) جزائي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۲۸) دوسیو په اړه قضائي قرارونه صادر شوي، (۱۹) دوسیې فیصله شوې، (۵) مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**په تجارتي برخه کې:**

په تېره یوه میاشت کې (۷) تجارتي دوسیې محاکمو ته راجع شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې. له دې جملې څخه د (۱) دوسیې په اړه قضائي قرار صادر شوی، (۳) دوسیې فیصله شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

**د وثیقو برخه کې:**

د میدان وردګ ولایت محاکمو په یوه میاشت کې (۱۷۰) بېلابېلې وثیقې هم اجرا کړې دي.

## محاکم ولایت پروان طی دو هفته علاوه بر رسیدگی به (۲۳۵) دوسیه، به تعداد (۱۶۲) قطعه وثایق را نیز اجرا نموده‌است

خلاصهٔ اجراآت قضائی محاکم ولایت پروان، دواوین مرافعه، وثایق، ابتدائیهٔ شهری و ابتدائیهٔ ولسوالی‌ها از تاریخ (۲۳/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق الی ۶/ ۲/ ۱۴۴۷هـ ق) در بخش‌های حقوقی، جزائی و وثایق به شرح ذیل می‌باشد:

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۴۵) دوسیهٔ حقوقی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۸۷) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۳۱) دوسیه فیصله شده، (۱۰) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (۱۱۳) دوسیهٔ جزائی وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت. از آن جمله در رابطه به (۵۰) دوسیه قرار قضائی صادر شده، (۴۴) دوسیه فیصله شده، (۱۳) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده و دوسیه‌های باقی‌ماندهٔ دیگر تحت کار می‌باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان دو هفته در محاکم ولایت پروان به تعداد (۱۶۲) قطعه وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

سرپرست مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اډیټور: جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه څرګندويه خپرونه
په میاشت کې درې ځله چاپیږي

## حکم جزای تعزیری بالای یک مجرم در ولایت دایکندی تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ دیوان جزاء محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری ولایت دایکندی بالای یک زن به جرم ارتباط نامشروع؛ به تاریخ ۲/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد . دیوان جزاء مجرم را به یک سال حبس تنفیذی و ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

## حکم جزای تعزیری بالای دو متهم در ولایت بدخشان تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ارگو ولایت بدخشان بالای دو تن به اتهام فعل زنا؛ به تاریخ ۳/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمهٔ ابتدائیه متهمین مذکور را به ۳۹- ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه بالای متهمین تطبیق شد.

## دکابل ولایت میربچه کوټ ولسوالۍ او نشه يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محاکمو لخوا (۱۳) مجرمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د کابل ولایت مرافعه محکمې اړوند د میربچه کوټ او نشه يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محاکمو لخوا دیارلس کسانو ته د قماربازۍ، نشه يي تابلیتو (ذیکپ)، هیروئینو او چرسو د خرڅلاو او قاچاق په جرمونو؛ د روان ۱۴۴۷ هـ ق کال په ۲۱ محرم الحرم او ۵ د صفرالمظفر میاشتو تعزیري سزاګانې ورکړل شوې. ابتدائیه محاکمو شپږ مجرمین له ۱۵ څخه تر ۳۰ دُرو او اووه مجرمین پر یو کال او اته میاشتې تنفیذي بند او له ۱۰ څخه تر ۲۵ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو. دغه پرېکړې د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر یادو مجرمینو تطبیق شوې.

## په زابل ولایت کې اوو مجرمینو او متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د زابل ولایت شاه جوی ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې څلورو کسانو ته د غلا او لواطت په تور او د یوې ښځې په ګډون درېيو کسانو ته د نامشروع اړیکو په جرم؛ د چهارشنبې په ورځ (۱۲/ ۲/ ۱۴۴۷) هـ ق نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.
ابتدائیه محکمې یاد کسان له ۲۰ څخه تر ۳۰ دُرو پر تعزیري سزا محکوم کړي وو؛ چې یاده پرېکړه د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته تطبیق شوه.
یاده پرېکړه د شاه جوی ولسوالۍ د (الف او باء) څانګو ابتدائیه محاکمو قضائي غړو او اداري کارکوونکو، ولسوال، امنیه قوماندان، د امربالمعروف، نهی عن المنکر او شکایاتو اوربدو مسؤولینو، علماوو شورا غړو، مجاهدینو او د محاکمو مراجعینو شتون درلود.
د غونډې په پیل کې د موضوع اړوند اصلاحي بیان او خبرې وشوې او ورپسې د تعزیري سزا حکم تطبیق شو.
د تعزیري سزا له تطبیق وروسته غونډه د دعاء په ویلو پای

## په میدان وردګ ولایت کې درېیو متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

د میدان وردګ ولایت سیدآباد ولسوالۍ ابتدائیه محکمې د پرېکړې له مخې درېیو کسانو ته د لواطت په تور؛ په دوشنبې ورځ (۱۰/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټه تعزیري سزا ورکړل شوه.
ابتدائیه محکمې یاد متهمین پر درې میاشتې تنفیذي بند او ۳۹ دُرو تعزیري سزا محکوم کړي وو.
پر یادو متهمینو د تعزیري سزا حکم د تطبیق په موخه جوړه شوې غونډه کې چې د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه، د سید آباد ولسوالۍ ابتدائیه محکمې رئیس مولوي عبدالقدیم «حنفي» او د همدې محکمې مفتي مولوي عبدالقادر «جناب» د حدودو او تعزیراتو تطبیق، د ناروا اعمالو د مخنیوي، پر بدو اعمالو د توبې او نورو مهمو موضوعاتو خبرې وکړې.
د یادونې وړ ده چې د تعزیري سزا دغه حکم د سترې محکمې عالي مقام له تائید وروسته پر متهمینو تطبیق شو.

## حکم جزای تعزیری بالای دو مجرم در ولایت بغلان تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی بغلان مرکزی ولایت بغلان بالای دو تن به جرم ترتیب اسناد جعلی؛ به تاریخ ۱۰/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمهٔ ابتدائیهٔ مجرمین را به شش ـ شش ماه حبس تنفیذی و (۲۰) دُره جزای تعزیری محکوم کرده بودند؛ که این فیصلهٔ بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد .
حکم جزای تعزیری در حضورداشت مولوی سیف الله (حنیف) و مولوی ضیاءالرحمن فاروقی رؤسای جزء الف و باء، اعضای قضائی و اداری، پرسونل قطعه مفرزه، علماء کرام و شماری از مراجعین و باشندگان محل تطبیق گردید.

## حکم جزای تعزیری بالای یک مجرم در ولایت کاپیسا تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی حصهٔ اول کوهستان ولایت کاپیسا بالای یک تن به جرم تبلیغات علیه نظام امارت اسلامی؛ به تاریخ ۵/ ۲/ ۱۴۴۷هـ ق حکم جزای تعزیری تطبیق شد. محکمهٔ ابتدائیه مجرم متزکره را به یک سال و شش ماه حبس تنفیذی و ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصله بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.
در این جلسه محترم مولوی عزیز الرحمن (حقانی) رئیس محکمهٔ مرافعه سخنرانی نمود و از بررسی دوسیه‌جات مطابق شریعت غرای محمدی (صلی‌الله علیه وسلم) تأکید کرد فرمود، که تعزیر در شریعت اسلامی تنها پند برای مجرم نیست؛ بلکه عبرت برای دیگران هم می‌باشد.
جلسه بعد از تطبیق حکم جزای تعزیری به دعاء خیر به پایان رسید.

## حکم جزای تعزیری بالای یک متهم در ولایت کندز تطبیق شد

به اساس فیصلهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ ولسوالی کلباد ولایت کندز بالای یک تن به اتهام سرقت؛ به تاریخ ۱۰/ ۲/ ۱۴۴۷ هـ ق در محضر عام حکم جزای تعزیری تطبیق شد . محکمه ابتدائیهٔ متهم را به سه ماه حبس تنفیذی و ۳۹ دُره جزای تعزیری محکوم کرده بود؛ که این فیصلهٔ بعد از تائید مقام عالی ستره محکمه تطبیق شد.

## دکابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې (۳۲۷) دوسیو ته رسېدنه کړې ده

د کابل ولایت د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې په یوه میاشت کې د ۱/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټې څخه تر ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق نېټې پورې (۳۲۷) دوسیو ته رسېدنه کړې ده؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي.
د نشه‌يي توکو او مسکراتو څخه د مخنیوي ابتدائیه محکمې ته په یوه میاشت کې (۴۰۲) دوسیې واردې شوې؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.
له دې جملې څخه د (۱) دوسیې په اړه قضائي قرار صادر شوی، (۳۱۸) دوسیې فیصله شوې، (۸) دوسیې مکتوبي مستردې شوې او پاتې دوسیې تر کار لاندې دي.

## دکابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په یوه میاشت کې (۲۱۶۴) بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي

د کابل ښار د سندونو او وثیقو د ثبت شپږو آمریتونو په یوه میاشت کې له (۱/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق څخه تر ۲۹/ ۱/ ۱۴۴۷ هـ ق) نېټې پورې (۲۱۶۴) بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي؛ چې جزئیات یې په لاندې ډول دي:

**۱- د سندونو او وثیقو د ثبت لومړۍ حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت لومړۍ حوزې په یوه میاشت کې (۱۶۳) نکاح خطونه، (۲۵) قبالې، (۱۱) زوجیت خطونه او (۱۰۰) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۲- د سندونو او وثیقو د ثبت دویمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت دویمې حوزې په یوه میاشت کې (۱۲۷) نکاح خطونه، (۱۲) قبالې، (۹) زوجیت خطونه او (۱۵۱) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۳- د سندونو او وثیقو د ثبت درېیمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت درېیمې حوزې په یوه میاشت کې (۲۵۸) نکاح خطونه، (۹۱) قبالې، (۱۸) زوجیت خطونه او (۱۵۷) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۴- د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت څلورمې حوزې په یوه میاشت کې (۱۸۴) نکاح خطونه، (۲۰) قبالې، (۸) زوجیت خطونه او (۷۳) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

**۵- د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمه حوزه:**

د سندونو او وثیقو د ثبت پنځمې حوزې په یوه میاشت کې (۲۴۲) نکاح خطونه، (۲۲) قبالې، (۱۲) زوجیت خطونه او (۱۷۸) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

۶ـ د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمه حوزه:

د سندونو او وثیقو د ثبت شپږمې حوزې په یوه میاشت کې (۱۹۳) نکاح خطونه، (۱۸) قبالې، (۱۱) زوجیت خطونه او (۸۱) نورې بېلابېلې وثیقې اجرا کړې دي.

میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې

پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

publications.sc١٤٤٣@gmail.com

www.supremecourt.gov.af

د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳